عبدالله حسرت ۲۰۱۸/۰۷/۱۲

طالبان؛ د مشروعیت او داعیې په بحران کې

ولسي رېښې، واضحه سیاسي تګلاره او هدفونه، نړیوال ملاتړ او د دریځ معقولیت هغه څه دي، چې تر ډېره د یوه تحریک راتلونکي او مشروعیت تعریفوي. پر دغو معیارونو که وسله وال طالبان وتلوو، نو ثابتیږي، چې یاده ډله په سیاسي توګه ناپخته، د ولس لخوا منزوي شوی، په نړیواله کچه بد شهرته او له مذهبي نظره نامشروع ګرځول شوی تحریک دی، چې له هیڅ زاویې د یوه مشروع ولسي، سیاسي او مذهبي غورځنګ بڼه نه لري.

وسله وال طالبان؛ تور زړي سپین پوښان:

وسله وال طالبان هغه خود ساخته "مذهبي" ټولی دی، چې له دوی څخه په فزیکي، مذهبي، کلتوري او سیاسي لحاظ متفاوت خوځښتونه، افراد او ژوند لاري نه زغمي او د زور له لارې یې د تقبیح او محکومیت وړ بولي. د طالب تر کنترول لاندې سیمو کې د افرادو له ظاهري قیافې نیولې، آن د دوی د ژوندانه تر هر مادي او معنوي اړخه پورې تر تیري لاندې دي. د فکر او بیان خپلواکي خو بیخي په سلګو وي. دا هر څه د ولس له منځه وتلي په ظاهره سپین پوښان له ټولنې جلا کوي. همدا لامل دی، چې له ملته متفاوته ډله د ډار په واسطه د خلکو پر زړونو له حکمرانۍ بله لاره نلري. د دوی ډېری برخه که څه هم چې له معنوي پلوه د ټولنې له ډېرو غړو غریب وي، خو بیا هم د ټولنې د سمون د دعوې له مخې د سختو رویو له لارې خلک د "ریا زاهدان" جوړوي.

د معاصري دولتدارۍ په دور کې یو بېګانه جریان:

له پیل څخه تر ننه پورې د وسله والو طالبانو د تحریک پېژنده د یوه سیاسي نه بلکې مذهبي تحریک په ډول شوې. خو اوس چې د "مذهبي" جګړې تر نامه لاندې د سیاسي موخو تعقیب کوي، باید د مذهبي مشروعیت تر څنګ یې تعریف شوې سیاسي تګلاره، اهداف او اړیکې درلودلای. خو داسې نه ده. د پاکستان په ایبټ آباد کې د ساتل شوي او وژل شوي اسامه بن لادن لپاره د دوی په اصطلاح "اشغال" ته زمینه سازي کول، د دغه وضعیت د دوام لپاره د جګړې اوږدول او په خپل وخت کې یې یوازې د دریو هېوادونو لخوا د حکومت په رسمیت پېژندنه، د وسله والو طالبانو د تحریک پر سیاسي کمزورۍ دلالت کوي او روښانوي چې دغه ډله د معاصري دولتدارۍ له اصولو ناخبره او په نړیوال سیاسي کلي کې یې فعالیت له یوه بېګانه جریان څخه پورته هیڅ هم نه دی. په همدې اساس، په نړیواله او سیمه

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پتهله موږ سره اړیکه ټینګه کړئmaqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ییزه کچه د دغه تحریک هیڅ ډول سیاسي او ډیپلوماتیک ملاتړ نه تر سترګو کیږي، بلکي د یو شمېر هېوادونو لخوا یې د خپلو موخو لپاره استخباراتي/ مالي/ پوځي ملاتړ کیږي.

حق که سمیع الحق؟

د طالبانو د بې پایلې جګړې ماهیت، وسیلو، ویجاړیو او د ارزښتونو پایمالیدو ته په کتو سره د دوی جګړه د هر معتبر اسلامي بنسټ او ادرس لخوا نامشروع اعلان شوه. د اندونېزیا په کنفرانس کې د دغه هېواد، افغانستان او پاکستان علماوو؛ د اسلامي همکاریو سازمان، د افغانستان درې زره په شاوخوا کې علماوو، د کعبې امام عبدالرحمان السدیس، د الاظهر او دیوبند مدرسو علماوو، د اسلامي فقهي مرکز او یو شمېر نورو بنسټونو او اشخاصو د افغانستان اوسنۍ جګړه نامشروع او ورور وژنه یاده کړه او پر افغان دولت او وسله والو طالبانو یې د سولې غږ وکړ. د روان لمریز کال د چنګاښ د میاشتې په ۱۹ مه او ۲۰ مه نېټه د سعودي عربستان په جده او مکه مکرمه کې له دېرشو څخه د زیات اسلامي هېوادونو علماوو د افغانستان اوسنۍ جګړه ناروا او فتنه اعلان کړه. د جګړې د تحریم په اړه د حرم له منارو د اسلامي علومو د لسګونه مفسرینو، مفقهینو او منل شویو علماوو غږ پورته کول، یوه تاریخي پېښه او تصمیم و، چې وسله والو طالبانو ته یې د سولې او اسلام دښمنۍ پرته درېیمه لاره پرېښوده. په دغه تاریخي کنفرانس کې یوازې د پاکستان زیاتره ورغوښتل شویو علماوو او ایراني اخوندانو ګډون نه و کړی، چې د افغان دښمنۍ په اړه د هغوی دریځ له هیچا پټ نه دی. د اسلام اباد او تهران په فتواوو او د روسي روبېلو په زور افغان وژني ته دوام ورکول، د افغان طالبانو سیاسي راتلونکی او حتی فزیکي شتون تر پوښتنې لاندې راوستلای شي. ګورو، چې دغه ډله د "حق" مني که د پاکستاني استخباراتي ملا سمیع الحق؟

اوربند؛ د افغان دولت اخلاقي بری

د افغان دولت لخوا، چې د وجود تر شا یې د ولس باور او د نړیوالې ټولنې ملاتړ موجود دی، د باور د فضا رامنځته کولو لپاره یوې حریفې وسله والې ډلې ته د اوربند وړاندیز په اخلاقي لحاظ دغه ډله (افغان وسله وال طالبان) ماته کړه او د افغان دولت لوري ته د ولس د بې طرفه حلقاتو تمایل زیات شو. همدا راز د سولې لپاره د حکومت پر ژمنتیا او د نړیوالو همکارانو لخوا د دغې پروسې د ملاتړ په اړه د دوی شکونه تر ډېره له منځه ولاړل.

رټل شوی تحریک د یوه تاریخي فرصت په درشل کې:

د جګړې په ډګر کې پر وسله والو طالبانو پوځي فشار، پر تمویلونکو هېوادونو یې نړیوال سیاسي فشار، په کور دننه سولې ته د حاضرېدو لپاره پر یادې ډلې ولسي فشار او په ورته وخت کې د معتبرو او منل شویو اسلامي بنسټونو او اشخاصو لخوا یې د جګړې ناروا اعلانېدل، افغان وسله وال طالبان له داسې یوه حالت سره مخ کړي دي، چې سولې ته

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پتهله موږ سره اړیکه ټینګه کړئmaqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

نه حاضرېدل به يې د ملت، ټولې اسلامي نړۍ او نړيوالې ټولنې پر وړاندې ودرېدل او د سيمې د څو هېوادونو د ګټو او ستراتيژيکو اهدافو لپاره د کرايې د قاتلانو په توګه د افغانانو عامه وژنه وبلل شي.
افغان وسله وال طالبان بايد له اوسني تاريخي فرصت څخه ګټه واخلي. د سولې پر وړاندې خنډونه له منځه تللي، افغان دولت د سولې په پروسه کې د ولس، زياتره کورنيو سياسي ادرسونو او نړيوالې ټولنې ملاتړ او باور له ځانه سره لري. يرغمال شوي طالب مشران دې پر دوی زياتېدونکی ولسي فشار بهانه کړي او له بهرنيو لاسونو دې ځانونه راوباسي. د دې فرصت له لاسه ورکول به د لا زياتو افغانانو د وژل کېدو او بالاخره د وسله وال طالب پر ضد د ولسي قيام سبب وګرځي.

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پتهله موږ سره اړيکه ټينګه کړئmaqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ